آریانا افغانستان آنلاین
ملي، سیاسي او ادبي ویب پاڼه
http://www.arianafghanistan.com

پوهاند محمد بشیر دویال ۲۰۲۱/۰۹/۱۵

# شــــــانگـــــهای او افـــغانســــــــتان

(د شل کلنی عمر او سالیانه غونډې په مناسبت(SCO) د شانګهای د سازمان )

**( د شانګهای د سازمان (SCO) د شل کلنی عمر او سالیانه غونډې په مناسبت)**

مشهوره خبره ده چې معاصر وخت کې د نړۍ بڼه د یوه کلي په شان ده. کلي کې کورونه یوبل سره ډیره نږدې راشه- درشه لري. یوبل ته خواخوږي او زړه سواندي وي او تعاملات یې تاوده او سنجول شوی وی. په تیره بیا دا چې اقتصادی ګړندی پرمختګ ، اقتصادی تعاملات پراخه او هر اړخیز کړي دي. منطقویتوب ( regionalism) اوس یوه اړتیا ده. په همدې خاطر له منطقوی اقتصاد، منطقوی همکاریواو منطقوی مناسباتو او سازمانو څخه خبرې کیږي. په دې کې یو هم منطقوی سازمانونه دي لکه : شانګهای( SCO)، ایکوECO، سارکSAARC ، ASEAN, (CACM , BENELUX, ش/Centeral American Cmmon Market), , ANZCERTA,CAREC,CARICOM,او داسې نور تول د منطقوی سازمانو او منطقوی همکاریو مثالونه دي، چې غړو هیوادو دخپل منځی تړونو په لاسلیک سره خپل ډیر اهداف ترلاسه او یوبل سره نږدی شول. افغانستان یو شمیر دغو هیوادو کې بشپړ غړی، خو یو څو نورو کی ناظر غړی و. تیرو شلو کلونو کې دافغانستان جیو- اکونومیک او جیو- پولیتیک موقعیت ډیر اوچت شو، نړۍ هم دی حساس موقعیت ته ځیرشوه. RICA I-VII کې افغانستان بنه دریځ ترلاسه کړی و، افغانستان ته د آسیا زړه وویل شو او دا دریځ د اوچتیدو په حال کې و. په دې تولو کې یو هم د شانګهای نوی سازمان دی، چې شل کاله مخکې په سیمه کی جوړ شو. دغه سازمان خپلې کلنۍ غونډې دایروي او بشپړ غړی، ناظر، میلمانه، د سازمانو هیاتونه ، ژورنالیستان، تحلیل کوونکی او نور پکې ګډون کوی او وار په وار د ترقی لوري ته نوې لاسته راونې پیدا کوي. غونډې بیلابیلو غړو هیوادو کې په نوبت سره دایریږی، مثلاً اتلسمه کلنۍ غونډه یې په ازبکستان کې وه. افغانستان تیرو شلو کلو کې نامخدا یوڅه فعاله شوی هم و، څه ناڅه لاسته راوړنې یې هم لرلې.

دا دی نن- سبا (سپتامبر ۲۲-۲۰)د شانګهای کلنی غونډه دایریږی چې د دغه سازمان له شل کلن کیدو سره برابره ده، خو افغانستان ؟ موږ سرکال نشو ورتلای.

د سږنی غونډې د شانداره لمانځنی لپاره د دې سازمان دغړو هیوادو دبهرنیو چارو وزیرانو (چهارشنبه، دجون په ۱۴مه= چنګاښ۲۳ مه) دتاجکستان پلازمینه، دوشنبه کې یوه غونډه جوړه کړې وه. دا دی اوس چی کلنۍ غونډه دایروي، افغانستان کی بدلون راغلی او د دوی یوه مهمه موضوع به د دغه هیواد په هکله بحثونه هم وي.

سږ کال (نن- سبا:د ۲۰۲۱کال د سپتامبر ۲۲-۲۰)د دغه سازمان غونډه دافغانستان له استازي پرته ترسره کیږي. د شانګهای د ګډو مرستود سازمان په ناستو کې له دې مخکې دافغانستان استازي دناظر په حیث ګډون درلود، خو سږکال به څوک پکې نه وي .غونډه به په ډیرو شاندارو مراسمو دتاجکستان په پلازمینه دوشنبه ښار کې ترسره شی، موږ به


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید: info@arianafghanistan.com

یواځې د تلویزونو پرمخ هغه ګورو، چې دبحث یوه اساسي موضوع به یې دافغانستان وضعیت وي (ترڅو چې دافغانستان حکومت په رسمیت ونه پیژندل شي، افغانستان ته دعوت نه ورکول کیږي).پاکستان، روسیه، چین، تاجیکستان، ازبکستان، قیرقیزستان، قزاقستان، هند یې بشپړغړي؛ افغانستان، ایران، بلاروس او مغولستان یې ناظر غړي دی، افغانستان هم چې ناظر غړی و، سږکال به پکې نه وي. دغونډې کوربه او مشر د تاجکستان نیکمرغه هیواد دی. دغونډې لوی شعار به: (*شل کاله د شانګهای د مرستو سازمان*) وي.

بده نده چې دغه سازمان لږ لږ معرفی کړو:

د ( Shanghai Cooperation Organization ) سازمان په ۲۰۰۱م. کال کې دچین، روسیې، قزاقستان، قرغزستان، ازبکستان او تاجکستان هیوادونو له خوا دګډو امنیتي، اقتصادي او فرهنګي همکاریو په موخه د چین د شانګهای په ښار کی جوړ شو. دا د Euro Asia د منطقې یو ښه متمرکز او د اهدافو له پلوه سره پیپلی سازمان بلل کیږي. نوښتګر یې د چین هیواد دی ، پخوا هم داصلی او ناظرغړو ترڅنګ زیاتره وخت بیلاروس، ترکیې او سریلانکا هم په دیالوګ او خبرو اترو کی برخه اخیسته.

په شلمه پیړی کې بشریت ته دا تجربه ثابته شوه چې د مخامختیا او تقابل پرځای همکاری او وصل ډیر ګټور تماميږي، نوځکه په منطقوی سازمانو کې سره منسجم شول. منطقوی سازمانونه له اقتصادی انضمام سره توپیر لری، مثلاً: سیمه ییزه همکاري او سیمه ییز اقتصادي انضمام یو شان نه دي آن داچې د دې دواړو تر منځ ډیر لږ اړیکه لیدل کیږي. کیدای شي ځیني هیوادونه پخپل منځ کې دګڼ شمیر مسایلو په برخه کې دهمکاری لپاره هوکړې ته رسیدلي وي، خوپرته له دې چې یو بل ته دسوداګریزو امتیازاتو په اړه قایل شي. په منطقوی سازمان کې یو ډول ( Functional/sectorial cooperation) همکاری موجوده وی، حال دا چې په اقتصادی انضمام کې ټوله توجه په بازار او تجارت باندی متمرکزه وی؛ یعنی یو( Market/Trade integration) شکل لري. د همدې تجربی له مخې اوس په نړی کې زیات شمیرمنطقوی سازمانونه لکه CAP, Cooperation Council, CACM,ASEAN, EUECOWAS, Gulfاو نور جوړ شوی دی. په دې وروستیو کې په ځانګړي ډول په آسیا کې، او خاصتاً زموږ لپاره د پاملرني وړ یې SAARC,ECO,SCO, سازمانونه دي. دغه سازمانونه هم زموږ لپاره او هم افغانستان ددوی لپاره اړ او ګټور دی. په تیره بیا دغه ډول سازمانونه او په هغو کې غړیتوب زموږ لپاره له اقتصادی پلوه ډیر اهمیت لری. البته یو شمیر یې د اقتصادی مقاصدو ترڅنګ امنیتي او نظامی اهداف هم لری، مثلاً د سارک د سازمان کلتوری اړخ ډیر جوت دی، خو ایکو تجارت ته ډیر ارزښت ورکوی، شانګهای بیا امنیتی مسایل هم خپله اجندا کی شامل کړي دي، خو موږ ته مهم یې اقتصادی اهداف وو، چې فعلاً ورځخه ګوښه شوی یو، اینده کې خدای مهربان دی. په تیره بیا اوس د یوه لار- یوکمربند( دوربینمو د لاری) مفکوری له چین څخه تر پاریس پوری او له ولادی واستوک څخه ترلزبن پوری نښلول او د ګړندی ریل ګاډی په واسطه تجارت د شانګهای یو عجیب خیال دی.د دې خیال ډیر اوچت الوتونکی مرغه، افغانستان و، اوس لویدلی او بنې یې ماتې ښکاري.

چې له خیال تیرشو او زمکني واقعیت ته راشو؛ دا سازمان سیاسی موخي هم لری، البته کلتوری تعلقات یې هم بحثونو کی شامل دی، په دې توګه شانګهای یو سیاسی، اقتصادی، اوټولنیز سازمان دی.

راځئ لږ یې تاریخچه نوره هم راوسپړو: دغه سازمان په واقعیت کې د (شانګهای پینځه ډلې) یو پرمختللی جوړښت دی، چې په ۱۹۹۶م .کال کې دچین، روسیې، قزاقستان، قرغیزستان او تاجکستان ترمنځ دخپل منځني باور د پیاوړتیا په موخه دیوه تړون له مخې جوړ شوي و. نوموړو هیوادونو په ۱۹۹۷م. کال کې په مسکو کې بله غونډه جوړه کړ چې په ترڅ کې یې په سرحدي پولو کې دپوځیانو دکمولو په هدف یو موافقه لیک لاسلیک او په ۲۰۰۱م .کال کې له دې تړون سره د ازبکستان په یوځای کیدو سره دشانګهای دهمکاری سازمان( SCO) په نوم ونومول شو. چین، روسیه، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان، او قرغیزستان د شانګهای تړون اصلي بنسټ اینبودونکي غړي دي او هند، ایران، پاکستان اومنګولیا یې ځارونکی غړي شول او بیا نور تحولات هم پکې راغلل. افغانستان په ۲۰۱۲م. کال کې د شانګهای څارونکی غړی شو، چې دغړیتوب له ورکړې وروسته د چین دبهرنیو چارو وزارت وویل چې دافغانستان امنیت او ثبات دسیمې لپاره

ډیر مهم دی او هیله ده چي افغانستان به دناظر غړیتوب په ترلاسه کولو سره په سیمه کي دامنیت او ثبات لپاره خپلي هلي ځلي چټکي کړي.وروسته بیا د افغانستان دریځ پکي اوچت او لا مهم شو.

په منطقوی سازمانو، قاره یی سازمانو او آن لویو نړیوالو سازمانو (مثلاً م.م. سازمان) کي د غړیتوب ګټي زیاتي دي، خودا د مربوطه غړی هیواد په قوت، قوی پالیسی او ملی او بین المللی دریځ پوري هم اړه لری. په غونډو او بحثونو کی فعاله برخه لرل، ښه دیالوګ، لابیګری، او تفاهم ، مناسب موقف کی دریدل د یو هیواد ګټي خوندي کوي.

دغه سازمان دوه ګوني جوړښت لري، چي لومړی یي دسازمان دغونډو میکانیزم دی او بل یي دایمي څانګي چي په لاندي ډول دي:

۱. دحکومتونو دمشرانو شورا (لومړي وزیران، لکه دري میاشتی مخکي چي دایره شوه)

۲. دبهرنیو چارو وزیرانو شورا،

۳. دملي اژانسونو دمشرانو غونډه (تر اوسه دشانګهای سازمان ددفاع، اقتصاد، سوداګری، ترانسپورت اوفرهنګ وزیرانو او دامنیتي چاروا کو، لکه: کورنیو چارو وزیرانو، لوی څارنوالان او دغړو هیوادونو مرستندویه سازمانونو مشرانو غونډي ترسره شوي دي).

۴. دملي همغږي کوونکو شورا،

۵. سکرتریت،

۶. دترهګری پر وړاندي د مبارزي سیمه ییز مرکزجوړول




*د شانګهای د سازمان تشکیلاتی جوړښت*

دشانګهای سازمان موخي:

۱. په سیاسي ، اقتصادي، سوداګریزو او پوځي چارو کي دهمکاری پیاوړتیا؛

۲. دغیر قانوني کړنو، تروریزم، بیلتونپالني او دغیر قانوني کډوالی پروړاندي کډه مبارزه؛


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com

۳. دهیوادونو واکمنی ته درناوی؛
۴. دبالستیک ضد توغندیو تړون ته درناوی؛
۵. دسیمي امنیت ساتنه؛

چین اوروسیه د دغه تړون مهم او قوي غړي دي. موږ ته ددغه ډول سازمانو اقتصادی اهمیت په زړه پورې دی، ځکه چې افغانستان یو فقیر هیواد دی، نو:

له اقتصادی پلوه منطقویتوب او په کوچنی، متوسطه او لویه کچه د اقتصادی منطقو جوړول او په هغو کې غړیتوب یو ضرورت دی. د اقتصادی منطقو جوړول او په هغو کې ګډون تر سیاسی روابطو هم مهم او په زړه پورې دی. په دې ډول روابطو سره اقتصادی وضعیت ښه کیږي، د سیمې د اوسیدونکو د ژوند ستندرد او چتیرې او اقتصادی سرچینې ډیرې ښې تخصیص کیږي، مارکیټونه سره نږدې کیږی او د ترانسپورت لګښتونه کمیږی. په دې توګه یوبل ځخه جلا کوچنی اقتصادونه یو بل سره متحد کیږی. د سیمې دننه له فزیکی او انسانی پانګو ښه استفاده کیږي، نوي صنایع ایجادیږی او د بهرنیو پانګو د جذب لپاره هم یوه ښه لاره ده. افغانان هیله لری چې د شانګهای دغه غونډه، په بریالیتوب او د غوره پایلو به لرلو سره پای ته ورسیږی او موږ ته په ښه نیت وګوري. راتلونکی کې افغانستان؛ چې د سمیې لپاره ستراتیژیک جیوپولیتیک او جیواکونومیک ارزښت او دمنابعو او اقتصادی ریزرفونو له پلوه قوی پوتانسیل لري، باید له دغو چانسونو غوره استفاده وکړي. تاجکستان د افغانستان دوست هیواد دی، چې د تاریخ په اوږدو کې د دغو دوو دوستو هیوادو تر منځ هیڅ ډول کړکیچ ندی واقع شوی. شمال ګاونډي د افغانستان لپاره تر ټولو ډاډمن او مطمئن ګاونډیان وو او وروسته تر دې هم دي. د افغانستان غیابت به دشانګهای غونډو کی یوه موقتی مسئله وي ان شاالله ستونزې به حل شي.



برای مطالب دیگر پوهاند محمد بشیر دویال روی عکس کلیک کنید


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com